ا. بارکزی ۲۰۰۹/۰۳/۰۱ هلمند

# ملا عمرکه ملا کارمل؟

دپاکستان نامتو انگلیسی ژبی ورځپاڼې چه The News International نومیږ ی دسږ کال دفبروری دمیاشتی په ٢٤ نیټه خبر راکړچه دافغانستان دطالبانو مشرملا محمدعمرمجاهد خپل هغو برادرانو ته ته چه په شمالی او لویدیزوزیرستان کی فعالیت لری هدایت ورکری د ه چه پر پاکستانی امنیتی قوتونوباندی خپل ټول یرغلونه ودروی. ملا عمر لمږ ی یواستازی وزیرستان ته واستوله او ورپسی خپل مطلب د یو لیک په تر خ د تحریک طالبان پاکستان (TTP) مشرانو ته څرگند کړل. د طالبانو مشر ملامحمد عمر مجاهد د دغه اعلامیې په ترڅ کې پر پاکستاني طالبانو غږ کړی، چې له پاکستاني پوځ سره جګړه بنده کړي اود افغانی طالبانواوالقاعده سره یو ځای په افغانستان کې دمیشتو بهرنیو ځواکونو پرخلاف وسله پورته کړي .

ملامحمد عمر پدغه پیغام کی د پاکستان د مذهبي ډلو مشرانو ته په خپل لیکلي خطاب کې رسولی دی. چه له مسلمانانو سره جهاد نه دی روا. ده په خپل پیغام کې ویلي: "پر پاکستاني امنیتي ځواکونو، په قبایلي سیمو کې د مسلمانانو وژل د مجاهدینو بدنامي ده، دا په افغانستان کې د ناټو او امریکایي ځواکونو پر وړاندې روان جهاد ته زیان اړوي". د پاکستان د نیوزانترنشنل ورځپاڼې له مخې، ملامحمد عمر په وزیرستان کې د پاکستاني طالبانو له دریواړو ډلو، چې په دې وروستیو کې دISI او ملاعمرپه لمسون په یوه جبهه (TTP)کې سره راغونډې شوې، غوښتي، چې په افغانستان کې د میشتو بهرنیو ځواکونو پرخلاف ګډ کار وکړي، ځکه امریکا او ناټو په افغانستان کې د خپلو پوځیانو شمېر ډېروي .

دملا محمد عمر مجاهد ددغه لیک متن چه پر اخوانی پان اسلامیزم ولا ړ ه ده اوخپل وطن اوخللک دالقاعده اوISI دگتودقربانی کولو معنی لری، دببرک کارمل هغه بیانیه ته ورته ده چه یکی وویل: " دوستی افغان – شوروی شرط وطنپرستی است". دکارمل خبری هم په "پرولتری انترنشنلیزم " ولا ړ ه وه خو کارمل دخپل عمر په آخرو ور ځوکی یو ایرانی خبریال سره په مرکه کی ویلی وه چه دهغه باور نه چه پرروسانودرلود سخت پښیمانه وه.

پاکستانی پو ځ دایران دپخوانی بادشاه دله مینځه تلونه راپدی خواه دامریکی دحکومت دسیمه ایزژاندارم په توگه وظیفه تر سره کوی. دپاکستان امنیتی ځواکونه په دغه دوره کی خپل معاشونه ا ووسلی دامریکا دحکومت نه اخلی. خوسره ددی دا پو ځ دخپل اخوانی افسرانوپه خاطراو لدی کبله چه دملا کارمل د"دوست هیواد" پو ځ ده، "مسلمان" بلل کیږی . خو دملا عمرمجاهد په نظرنه یوا ځی افغان پوځیان او پولیس، بلکه افغان ښوونکي، دجماعتونوملایان، داکتران، دلاری جو ړولوعادی کارکوونکی اوحتی هغه کلیوال چه دخپلی سیمي دماینونوپه پاکولو کی بوخت دي کافران اومباح الدم گنل کیږ ی. یوا ځی په ۲۰۰۸ میلادی کال کی په زرگونه تنه ملکی افغان وگړی دطالبانوپه نظامی فعالیتونه کی ووژل شول خو دملا محمدعمرمجاهد غږ پورته نشوچه دافغان طالبان، پاکستانی طالبان او القاعده نه وغوا ړی چه پخپل تخریبی فعالیتونو کی دمسلمان ملی وگړی دژوندساتنی ته پاملرنه وکړ ي.

که ملا محمدعمر مجاهد په ر ښتیاهم یوافغان وای دافغانستان ملی گټی تر القاعده او ISI گټی لو ړ گڼل بایدپدغه شرایطو کی چه امریکا په افغانستان کی دخپل سرتیروشمیردزیاتوالی پلان لری، ټول طالبانو ته ویلی وای چه پرافغان پو ځیانو باندی یرغل بندکړ ی اوددی دپاره چه په افغانستان کی ویجاړونکی جگړ ه ختمه شی اودملکی افغانانو وینه دالقاعده ، ISI ، ناتواو ایتلاف په لاس توی نشی باید دیرژردافغان دولت او ناتوداستازو سره دخارجی پوځونو دوتلو دزمانی پروگرام اودافغانستان دسیاسی استقلال دخوندی کیدو دپاره خبری پیل کړی وای. .

ملا عمرپه ۱۳۸۰ کال کی دبن لادن په خاطرافغانستان دجنگ په ډ گربدل کړ ه اوپدی ډ ول دخاین شمالی ډلی تپلی دبیرته راتگ دپاره لاره اهواره شوه. اوس ملاعمرمجاهد غوا ړ ی چه پاکستانی طالبان او دالقاعده تر مشری لاندی نورخرابکارقوتونه دافغانستان دویجا ړ و لو دپاره متحد کړی. نتیجه دا شو چه TTP پاکستانی حکومت ته ددایمی اوربند وړاندیز وکړ . آفرین ملا کارمله!



افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید
maqalat@afghan-german.de